# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد          بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم          از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com          www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
|---|---|

درویش وردک

۰۷ اپریل ۲۰۱۵

## تاریخی ورتوالی!

که چیری دنړی دهیوادونو تاریخ اوپه ځانګړی توګه زمونږ دهیواد ۳۰۰ کلن تاریخ ته وګورو نوډیری پیښی یوبل ته سره ورته والی لری؟ په ډیرو مواردو کی پیښی کټ مټ دیوبل په شان دی اویوپه بل پسی تکراریږی.

په نولسمه پیری کی کله چی دانګریزی سامراج پښه دآسیا وچی ته راننوته نو پیښی نوری هم پسی شکمنی شوی.
امیردوست محمدخان دوه ځله پادشاهی وکړه(دافغان-انګلیس دلومړی جګړی«۱۸۴۱-۱۸۳۹» نه مخکی او وروسته)، بیا دده زوی امیر شیرعلی خان هم دوه ځله پادشاهی وکړه، دخپل پلاربر خلاف دده دپادشاهی لومړی دوره دده دورونو(محمد افضل خان او محمد اعظم خان) او وراره امیر عبدالرحمن خان لخوا ترګواښ لاندی وه اوړنګه شوه.

دامیرشیرعلی خان اړیکی  په لومړیو کی دانګریزانو سره بدی نه وی ، ولی کله چی انګریزانو دسیستان ولایت دکوم پرسرچی دافغانستان اوایران دعوه وه؟ ایران ته وسپاره نو امیر تری خوا بدی شو، مزارشریف ته لاړ ترڅو دروسانو څخه ملاتړ ترلاسه کړی! په همدی وخت کی شاهزاده عبدالله جان هم وفات کیږی او امیر پسی خوابدی اوبالاخره همالته مړ کیږی، دکرزی اړیکی دامریکی سره هم دامیرشیرعلی خان په شان سړی شوی، اوبالاخره کرزی هم  مایوسه شو اوامریکایانو ته یی دروسانو اوچین څخه دمرستو دترلاسه کولو پټکی هم وکړی.

که چیری دهیواد ۳۵کن تاریخ ته وګورو نو پیښی نوروته والی هم ځانته غوره کوی؟ دمثال په ډول:

۱-په ۱۳۵۷ کال کی نورمحمد تره کی دیوی پوځی کودتاه په پایله کی ارګ ته ننوت. ځانګړتیاوی: پښتون غلجی، سخت دریزه چپی، ددښمن پروړاندی دزغم نلرل، په ارګ کی پښتو بازی اوپه دولتی چوکیو کی دخلقی پښتنو دونډی دروندوالی. بالاخره دروسانو دیرغل لپاره د پیشقراول رول لوبول، اوبالاخره خپله دروسانو ددسیسی ښکاراودخپل وفادارشاګردلخوا پانسی شو.

۲-په ۱۳۵۸ کال کی روسانو یرغل وکړ اوببرک کارمل یی په ګدی کښیناوه.چپی افراطی،  پښتون ضدکشمیری الاصله تاجک، دروسانو ترټولو وفادارمزدور،په دولتی چوکیو کی دغیرپښتنو ډیری، دلرکیوڅخه ملیشی جوړول اوبالاخره دروسانو ۹ کلن تیری ملاتړی.

۳-په  ۱۳۶۵ کال کی ډاکترنجیب د کارمل په ځای کښیناست . کله چی روسان په افغانستان کی دماتی سره مخ شول، اوپریکړه یی وکړه چی خپل پوځونه دافغانستان څخه وباسی نوهماغه وچی ډاکترنجیب دخپلواکی ساتنی(دفاع

خودی) ضمه روسانو ته ووهله اوپه ۱۳۶۸ کی روسان له هیواده ووتل. ډاکترنجیب دری کاله حکومت وکړترڅو په ۱۳۷۱ کال کی ربانی دده ځای ناستی شو.

۴-ربانی هم څلور ځله وډنگوله( که دکوتل خیرخانی زیرزمینی حساب شی ) بیوار دکابل دڅوناحیوپه اربعه حدودوکی اوبیا خواجه بهاءالدین کی اودناټودیرغل نه وروسته څومیاشتی(وروسته دانګلیس دسفیر دفشارپه پایله کی له ارګه ووت که نه کرزی به لاتراوسه دپښتونستان په څلورلاری کی په تمه ولاړو).

۵-ملاعمر، پښتون غلجی هوتک داسلامی امارت په اعلان سره دواک په ګدی کښیناست.دده دحکومت چاړواکی اوجنګیالی ترډیره پښتانه طالبان و، دغیرپښتنو پروړاندی سخت دریزه،داسلامی سخت شرعی قوانینوناڤضول اوپرښځو دبی ساری بندیزونو لګول اوبالاخره دامریکایانو لپاره دپیشقراول رول لوبول.

۵-بیا نوواردډریم شاه شجاع حامد کرزی راغی. پښتون درانی، دانګریزانو سره اوږده کورنی پیژندګلوی. دناټو اوامریکی دیرغل ملاتړی اودهیواد د۱۴ کلنی غمیزی سترلوبغاړی.

دکرزی واکمنی هم لکه دکارمل پشان دولس دوسله وال مقاومت سره مخ شوه اولکه څرنګه چی کارمل دروسانو داقتصاد بیخ وایست نو کرزی هم دامریکی ډیرسپین چکونه مصرف کړل.ولی پایله هماغه پخوانی وه، ناټو هم لکه دروسانو پشان خپلی موخی ته ونه رسیدل اوپه ډیره مایوسی یی دپوځونودایستلو پریکړه وکړه. کرزی له امریکی خوابدی اوناهیلی شو، دملت سره یی دهمدردی ناری سوری پورته کړی، دامریکیانوتیری او سپکاوی یی وروسته له ۱۲ کالو وغندل، امنیتی تړون یی په دی علت لاسلیک نکړچی دده دواکمنی دوام پکی نه و تضمین شوی.

۶- دامریکایانو اوناټوپوځیانو دنسبی وتلوسره د ع اوغ حکومت دجان کری په منځګریتوب رامنځ ته شو.اوبی ځایه به نوی که دډاکتر نجیب او اشرف غنی حکومتونه سره پرتله کړو.

ډاکترنجیب، پښتون غلجی احمدزی-اشرف غنی پښتون- غلجی احمدزی. نجیب روسانو ته قناعت ورکړچی دی به ګواکی پښتانه په ځان راټول کړی، پولی به وتړی اودپاکستان دلاس وهنو مخنیوی به وکړی؟

اشرف غنی هم ترډیره په همدی تکیه کوی چی دی به دپښتنوپه مرسته دنظام څخه ساتنه وکړی اویالړترلږه به پښتانه دوسله والی مبارزی څخه راوګرزوی؟. نجیب دیو پراخ بنسټه په اصطلاح ملی حکومت ناری پورته کړی او دښمنان یی ورونه وبلل او ملی سوله یی اعلان کړه .دده دحکومت په شاه اوخوا دحزب دموکراتیک پاته شونی لکه سازا، سفزا اونوردنظام څخه لری کړی راټولی شوی. دنجیب حکومت دانترناسیونالیستی شعارونو څخه راووت اوحکومت یی ترډیره قومی بڼه خپله کړه اوپښتونیزه شو،( کارمل سره له نوروپښتون ضد سکتاریستی کړیو سره یوی خوا شو اودنجیب دحکومت دکمزوری کولو لپاره یی لاس په دسیسو پوری کړ). اشرف غنی هم دمخالفینوسره سوله اعلان کړه، ترډیره یی حکومت په قومی فورمول ولاړ دی، همدا نیمه چپی اپورچونیستی کړی دده په شاه اوخوا راټولی دی، کرزی هم دکارمل په شان زیار باسی ترڅو خلک ده ته دعا وکړی(همدا اوس ورته دعاوی پیل شوی)، جنرال دوستم د نجیب دواکمنی سترلوبغاړی و، اوس هم دحکومت لومړی مرستیال دی. دنجیب په حکومت کی حکومتی چوکی پرقومی اندول ولاړی وی او اوس هم همداسی ده.

لس کاله روسان+ ۳کاله ډاکترنجیب = دشوروی نظام ړنګیدل او دارته دنجیب ختل .

او لس کاله امریکایان۳+ کاله اشرف غنی= (که خدای کول) دامریکی ړنګیدل اود اشرف غنی......؟؟؟

په درنښت